# څارنوال

حاکمیت قانون و تأمین عدالت


"لویه څارنوالي د قانون واکمنۍ په موخه ټولې قضیې په بې پرې، خپلواکه، منصفانه او قانوني توګه څېړي."

د افغانستان اسلامي جمهوري دولت لوی څارنوال څارنپوه محمدفرید حمیدي


سه‌شنبه ۳۱ ثور ۱۳۹۸ خورشیدی-۱٦رمضان‌المبارک ۱٤٤۰ هـ.ق - ۲۱ می ۲۰۱۹ میلادی، شمارهٔ ۱۱۵


## لویې څارنوالۍ په ۱۳۹۷ لمریز کال کې ۴۱٦۵۸ قضیې څېړلې دي

۲




د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت لویې څارنوالۍ د ۱۳۹۷ کال خپل د اجرااتو راپور د ۱۳۹۸ کال د غويي پر دویمه (ملت ته د حکومت د ځواب وېنې) په کنفرانس کې وړاندې کړ.

د هېواد لوی څارنوال څارنپوه محمد فرید حمیدي په دغه کنفرانس کې وویل، چې لویې څارنوالۍ تېر کال ۴۱ زره او ٦۵۸ قضیې څېړلې دي. د نوموړي په خبره د یاد شمېر قضیو څخه ۲۱ زره او ۲٦٦ قضیې په ملکي برخه، ۱۴ زره او ۱۳۹ قضیې په عسکري برخه کې او دوه زره او ۸۵۵ د کورني او بهرني امنیت پر ضد د جرمونو، درې زره او ۳۹۸ د نشه یي توکو او ۲۳۸ نورې د انسان تښتونې د جرمونو په اړه دي.

## ۸۰ زندانی از زندان پلچرخی کابل، از بند آزاد شدند



لوی څارنوالی دولت جمهوری اسلامی افغانستان، این زندانیان را بر اساس فرمان شماره چهارم ریاست جمهوری کشورکه به مناسبت ۲۷مین سالگرد پیروزی جهاد مقدس مردم افغانستان صادر شده بود، از زندان آزاد کرد.

در برنامه‌یی که به همین منظور، روز یک‌شنبه هشتم ثور سال ۱۳۹۸ خورشیدی در زندان پلچرخی برگزار شده بود، څارنیار محمداسعد ساپی رئیس عمومی څارنوالی نظارت بر تنفیذ احکام و بدیل حبس و رئیس کمیتهٔ تطبیق فرمان‌های ریاست جمهوری، معاونان زندان پلچرخی و برخی دیگر از اعضای کمیسیون تطبیق فرمان‌های ریاست جمهوری کشور نیز حضور داشتند.

بر بنیاد این فرمان، ۸۰ زندانی مشمول دو زن که در زندان‌های مرکزی، اناثیه و موادمخدر زندانی بودند، مورد عفو قرار گرفته و از زندان عمومی پلچرخی رها شدند و در میعاد حبس ۴۰ تن دیگر آنان تخفیف به عمل آمد.

محمداسعد ساپی رئیس عمومی څارنوالی نظارت بر تنفیذ احکام و بدیل حبس و رئیس کمیتهٔ تطبیق فرمان‌های ریاست جمهوری، این فرمان را برای زندانیان یک امتیاز ویژه دانسته و گفت که لوی څارنوالی همواره از آزادی و... صفحهٔ۳

## معاون لوی څارنوال در امور تحقیق، اجراآت بخش‌های مختلف څارنوالی استیناف ولایت تخار را بررسی کرد

څارنپوه نورحبیب جلال معاون لوی څارنوال در امور تحقیق و رئیس هیأت اعزامی به ولایت تخار، روز یک‌شنبه اول ثور ۱۳۹۸ خورشیدی، اجراآت و کارکردهای څارنوالی استیناف، عسکری و څارنوالی مبارزه با جرایم علیه امنیت داخلی و خارجی این ولایت را ارزیابی کرد.

معاون لوی څارنوال در امور تحقیق و رئیس هیأت اعزامی به ولایت تخار، در نشست با مسؤولان و کارکنان څارنوالی استیناف، عسکری و څارنوالی مبارزه علیه جرایم امنیت داخلی و خارجی، هدف از این بازدید را نظارت از امور کاری و اجراآت این څارنوالی‌ها عنوان کرد. وی به خاطر تقویت و تحکیم حکومت‌داری خوب برای آنان هدایت‌های لازم داد.

از سوی دیگر څارنیال سیدمحمد سبب رئیس څارنوالی استیناف ولایت تخار، از تطبیق یک‌سان قانون و تأمین عدالت در این ولایت برای هیأت اعزامی اطمینان داد. به گفتهٔ وی قضایایی که به این اداره مواصلت می‌ورزند، به



وقت و زمان معین رسیدگی می‌شوند.

څارنپوه نورحبیب جلال معاون لوی څارنوال، در دیدار جداگانه با عبدالحق شفق والی ولایت تخار، روی جلب اعتماد مردم نسبت به این اداره تأکید کرده افزود: "اعتماد و باور مردم نسبت به نهادهای عدلی و قضائی می‌تواند در حاکمیت قانون و تطبیق عدالت نقش مؤثر داشته باشد."

در همین حال عبدالحق شفق والی ولایت تخار، اجراآت و کارکردهای څارنوالی استیناف، عسکری و څارنوالی مبارزه با جرایم علیه امنیت داخلی و خارجی را قناعت بخش عنوان کرده و گسترش خدمات لوی څارنوالی را در این ولایت ستایش کرد. وی هم‌چنان اطمینان داد که جهت همکاری و هماهنگی میان ادارات محلی تلاش خواهد کرد.

گفتنی است که در این اواخر اجراآت و کارکردهای څارنوالی‌های استیناف ولایات، از سوی هیأت‌های جداگانه مورد بررسی و ارزیابی قرار گرفته است.



د ورګ د استیناف څارنوالۍ کړنې وارزول شوې

۳



فراغت ۱٦۰ تن از کارکنان لوی څارنوالی، از برنامهٔ ۹ ماههٔ زبان انگلیسی و کمپیوتر

۲

# لويې څارنوالۍ په ۱۳۹۷ لمريز کال کې ۴۱۶۵۸ قضيې څېړلې دي

**د قضيو برخليک**

په دغه خبري ناسته کې د هېواد لوی څارنوال وويل، چې د ۲۶ زره او ۸۰۰ قضيو محاکماتي مرحلې بشپړې شوې، چې په لس زره او ۹۷۱ قضيو د استيناف او په ۱۵ زره او ۱۶۲ قضيو ابتدايي محکمې پرېکړې کړې دي. په دغه راپور کې راغلي، چې دوه زره او ۱۲ قضيې تر کار لاندې دي او نهه زره او ۵۴۷ قضيې د مناسبو او لازمو دليلونو د نه شتون له امله حفظ شوې دي.

د ښاغلي حميدي په خبره، دغې ادارې له ۱۳۹۵ کال را پدې خوا د انسان تښتونې ۵۷۴ قضيې هم څېړلې دي او په دې اړه يې يو زر او ۳۳ کسان نيولې او تر څېړنه لاندې دي.

نوموړي د خپلو خبرو په دوام سره زياته کړه، چې د يادو جرمونو له امله (۸۰ ميليونه او ۵۵۰ زره او ۳۵۲ افغانۍ، ۴۲۰ زره او ۹۵۰ پاکستانۍ کلدارې، ۲۱۴ زره او ۲۰۰ هندي کلدارې او ۱۰۵ زره او ۷ امريکايي ډالر) د دولت خزانې ته لېږدول شوي دي.

ښاغلي حميدي، د نشه يي توکو او اداري فساد پر وړاندې مبارزه، د داخلي چارو اصلاحات او څارنه، ظرفيت لوړونه او روزنه، عدالت ته لاسرسی، قانون واکمني، د بنديانو د حقونو رعايتونه او د خبريالانو پر وړاندې د تاوتريخوالي قضيو ته رسيدگي د لويې څارنوالۍ له نورو کړنو او لاسته راوړنو څخه وبلل.

**د اداري فساد پر ضد مبارزه**

د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت لوی څارنوال د اداري فساد پر ضد مبارزه د يادې ادارې لومړيتوب وباله. د نوموړي په خبره، په همدې موخه د ځينو ادارو سره په همغږۍ د اداري فساد له لويو جرمونو سره د مبارزې عدلي او قضايي مرکز جوړ شوی او دغه مرکز په ۱۳۹۷ کال د اداري فساد ۸۵۰ لويې قضيې په لاس راوړې دي. د ياد راپور پر بنسټ، د ياد شمېر قضيو څخه ۱۱۰ قضيې څېړل شوې او محکمې ته استول شوې دي، په ۱۹۳ قضيو ياد مرکز کار کوي، ۷۶ قضيې تر کشف لاندې دي، ۴۵۴ د څېړنې د واک نه لرلو له امله اړوند مراجعو ته استول شوې او ۱۷ نورې د مناسبو دليلونو د نشتون له امله ساتل شوې دي.

نوموړي د خپلو خبرو په دوام سره وويل: «د دغو قضيو اړوند ۲۱۲ کسان د ياد مرکز له خوا محکوم او مجازات شوي، ۶۷ کسان ممنوع الخروج او د ۲۸ کسانو دندې تعليق شوې دي.»

د هېواد د لوی څارنوال د وړاندې شوي راپور له مخې، د يادو قضيو د څېړنې پر مهال دوه ميلیارده و ۳۲۰ ميليونه و ۱۸۹ زره او ۹۴۷ افغانۍ، ۱۵۳ ميليونه و ۱۴۰ زره او ۸۲۰ امريکايي ډالر، ۲۹۹ زره او ۵۰۰ پاکستانۍ کلدارې، ۳۰۹ ميليونه ايراني تومن، شپږ ميليونه او ۷۰۱ سعودي ريال، سل زره اماراتي درهم او ۱۵ زره يورو په لاس راغلي او د دولت بانکي حساب ته اچول شوي دي. ښاغلي حميدي په دغه خبري ناسته کې وويل، چې لويې څارنوالۍ له جرمي قضيو او مجرمينو سره په مبارزه سربېره له اداري فساد سره د مبارزې په برخه کې نور فعاليتونه هم تر سره کړې. نوموړي د اداري فساد پر ضد د مرستيالۍ د جوړونې، د ناقانونه شتمنيو د بېرته اخېستو د مسودې د تصويب او د اداري فساد پر ضد د دريو کنفرانسونو( د اداري فساد پر ضد د منبر غږ، له امنيتي او دفاعي ځواکونو سره په گډه د اداري فساد پر ضد د مبارزې کنفرانس او د اداري فساد پر ضد د مبارزې کنفرانس) په اړه هم يادونه وکړه.

نوموړي همداراز زياته کړه: « دغې ادارې تېر کال د اداري فساد پر ضد د مبارزې په برخه کې د کورنيو چارو له وزارت ، دفاع وزارت، ملي امنيت رياست، د تدارکاتو له ملي ادارې او د ټاکنيزو شکايتونو د اورېدنې کمېسيون سره پنځه هوکړه ليکونه لاسليک کړي دي.»

**د نشه يي توکو پر ضد مبارزه**

د لوی څارنوال د خبرو پر بنسټ، لويې څارنوالۍ تېر کال د نشه يي توکو درې زره او ۳۹۸ قضيې څېړلې دي. د دغو قضيو اړوند دوه زره ۷۶۵،۲۳۵ کيلو گرامه هيرويين، شپږ زره او ۷۷۸ کيلو گرامه مورفين، ۱۶ زره او ۳۸۸،۳۴۸ کيلو گرامه ترياک، ۲۸۱ زره او ۸۲۲،۱۹۱ کيلو گرامه چرس، ۸۵ زره او ۹۲۸،۸۰۴ کيلو گرامه کيمياوي مواد، اته زره او ۹۱۴،۱۰۴ ليتره الکولي مشروبات، يو زر او ۲۸۷،۵ ليتره تيزاب او يو ميليون او ۲۴ زره ټابليټ(k) په لاس راغلي دي.

نوموړي زياته کړه: «د يادو قضيو د څېړنې پر مهال، شپږ ميليونه و ۲۵۶ زره او ۶۶۲ افغانۍ او ۲۳۱ زره او ۷۵۰ امريکايي ډالر په لاس راغلي دي.

**داخلي څارنه**

د افغانستان د لوی څارنوال په باور، د کورنيو چارو د اصلاح لپاره د عدلي خدمتونو وړاندې کول او له اداري فساد سره مبارزه يوه اړتيا ده؛ له همدې امله دغه اداره په يادو شوو لاسته راوړنو سربېره د يادې ادارې کورنۍ چارې په جدي ډول څاري. نوموړي زياته کړه: «د کنترول او مراقبت څارنوالۍ عمومي رياست په ځانگړې ډول د کورنيو چارو د څارنې په موخه د يادې ادارې په تشکيل کې جوړه شوې ده. دا څانگه په ۱۳۹۷ کال کې يو زر او ۳۳۰ ځلې سيارې گزمې کړې او د لويې څارنوالۍ نږدې شل کسان يې، چې په اداري فساد کې ښکېل و، پېژندلي او نيولي دي.»

د هېواد د لوی څارنوال د وړاندې شوي راپور پر بنسټ، په يادو لاسته راوړنو سربېره د اداري فساد پر ضد د خلکو د همکارۍ د جلبولو په موخه درې زره تبليغاتي بروشر وېشل شوي او په مرکز او ولايتونو کې د اداري فساد پر ضد د هېوادوالو د اطلاع ورکونې او همکارۍ په موخه درې زره پوسټرونه هم لگېدلي دي.

د ښاغلي حميدي په خبره، د څارنوالانو د شتمنيو ثبتول، د څارنوالانو د منافعو د تضاد فرم تهيه او لاسليکول، د برقي حاضرۍ فعالول هغه فعاليتونه دي، چې لويې څارنوالۍ د داخلي څار(نظارت) په موخه تر سره کړي دي.

**داخلي اصلاحات**

د هېواد لوی څارنوال په دغه ناسته کې وويل، چې د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت لويه څارنوالي د يادې ادارې د کورنيو چارو د اصلاح او جوړونې په برخه کې ښې لاسته راوړنې لري. نوموړي د اداري فساد پر ضد د مرستيالۍ جوړونه، په ښځينه ازادۍ محرومو ځايونو کې د څار څارنوالۍ جوړول، په ۳۴ ولايتونو کې د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي د مخنيوي څارنواليو جوړول، د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي د کچې کمولو د آمريتونو جوړول، د نړيوالو جرمونو پر وړاندې د مبارزې څارنوالۍ جوړول، د عامه شتمنيو د بېرته اخېستلو څارنوالۍ جوړول، په تشکيلاتو کې د موازي څانگو له منځه وړل، د اړتيا له مخې د تشکيلاتو جوړول، په ۳۴ ولايتونو کې د قضيو د ثبت(CMS) مديريتونو او ۱۱۹ مرکزونو جوړول، په ملکي او عسکري برخه کې د يو زر او ۹۲۵ کسانو گمارنه، چې ۳۷۷ يې ښځې دي، د ښځو ونډه له ۳ سلنې ۲۰ سلنې ته زياتول، د هېواد په ۳۲ ولايتونو کې ښځينه څارنوالانو ته زمينه برابرول، په پرمنفعته توگه د ۱۲۶ څارنوالانو تقاعدول او د نويو کارکوونکو گمارل او همداراز د گمارنې اړوند د ۲۳۱ رقابتي پروگرامونو جوړول د تېر يو کال په اوږدو کې د يادې ادارې اصلاحي پروگرامونو وبلل.

**روزنه او ظرفيت لوړونه**

ښاغلي حميدي په ياده خبرې ناسته کې وويل، چې د اغيزناکه خدمتونو وړاندې کول د ادارې د کارکوونکو په ظرفيت لوړاوي پورې تړلي دي او زياته يې کړه، په ۱۳۹۷ کال کې دغې ادارې د خپلو کارکوونکو د ظرفيت لوړونې په موخه تحصيلي او روزنيز فرصتونه برابر کړي دي. د نوموړي په خبره، سږ کال ماسترۍ پروگرام ته ۸۸ څارنوالان، ليسانس زده کړو ته ۸۳ کسان، د ستاژ پروگرام ته ۷۳ کسان، بهرنيو بورسونو ته ۳۲ کسان او روزنيزو پروگرامونو ته دوه زره او ۷۱۳ کسان معرفي شوي دي.

**عدالت ته لاسرسی**

د هېواد د لوی څارنوال په باور، عدالت ته د هېوادوالو د لاسرسي زمينه برابرول د لويې څارنوالۍ يو بل مهم لومړيتوب دی. نوموړي د خپلو خبرو په دوام سره زياته کړه: « دغې ادارې عدالت د لاسرسي د زمينې د برابرلو په موخه د ۵۷ ولسواليو څارنوالۍ فعالې کړې دي. همداراز د هېواد په ۳۴ ولايتونو کې يې د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي د مخنيوي څارنوالۍ جوړې کړې او په ۳۲ ولايتونو کې ښځينه څارنوالانې په دندو گمارل شوې دي.»

نوموړي همدارنگه وويل، چې هره دوشنبه ورځ له هېوادوالو سره د دوی د ستونزو د حل په موخه وينې او ستونزې يې په قانوني توگه حلوي. نوموړي د (۱۸۰) اړيکشمېرې جوړونه، د شکايتونو صندقونه نصبول، د معلوماتو او ښه راغلاست مرکز او اطلاعاتو ته د لاسرسي مرجع جوړونه په دې برخه کې د لويې څارنوالۍ نورې لاسته راوړنې وبللې.

**قانون واکمني**

د هېواد د لوی څارنوال په خبره، دغه اداره د قانون واکمنۍ او د عدالت د تأمين په موخه د گرفتارۍ قرارونه د يو فرصت له مخې تهيه او يو کوي او کشفي او امنيتي بنسټونو ته يې سپاري او په ورته مهال کې، دغه اداره د قانون واکمنۍ عالي شورا غړيتوب لري او په ياده شورا کې پر گډون سربېره د يادې شورا د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې ناستې يې په دوامداره توگه دائېرې کړې دي.

د هېواد د لوی څارنوال په خبره، دغه اداره د قانون واکمنۍ په موخه ټولې قضيې په بې پرې، خپلواکه، منصفانه او قانوني ټوگه څېړي. نوموړي زياته کړه، تير کال د کابينې د پنځو پخوانيو او فعلي وزيرانو قضيې بشپړې شوې او ځانگړې محکمې ته استول شوې دي. له بلې خوا تير کال د لويې څارنوالۍ په هڅو د ۱۶ جنرالانو او اوو مرستيالانو د قضيو څېړنې بشپړې شوې او د محکمې له خوا محکوم او مجازات شوي دي.

**د بنديانو د بشري حقونو رعايتونه**

د هېواد لوی څارنوال د بنديانو په ځانگړې ډول د ښځينه بنديانو د حقونو د رعايتونې په موخه، په ښځينه ازادۍ محرومو ځايونو کې د څار څارنوالۍ د جوړنې يادونه وکړه. د نوموړي په خبره، له ازادۍ محروم ځايونه په مرکز او ولايتونو کې د يادې ادارې له خوا په دوامداره توگه څارل کېږي. ښاغلي حميدي همداراز وويل: «د هېواد لويه څارنوالي د بنديانو د حقونو د رعايتونې په موخه د جمهوري رياست د عفوې او بند مودې کمونې فرمانونه له صادرېدو سره سم تطبيقوي، تر څو هيڅ بندي په بند خونه کې تر ټاکلې مودې زيات پاتې نه شي.»

نوموړي همداراز، افغانستان ته له بهرنيو هېوادونو څخه د افغان بنديانو را استول هم د دغې ادارې لاسته راوړنه وبلله. ښاغلي حميدي په دې اړوند زياته کړه: «دغې ادارې له ۱۳۹۳ کال راپدې خوا ۱۲۷۳ افغان بنديان چې په ايران کې بنديان و، خپل هېواد ته د يو هوکړه ليک له مخې استولي دي او يوازې تير کال ۶۵۰ بنديان له ايران څخه افغانستان ته را واستول شوي دي.»

د افغانستان د لوی څارنوال د خبرو پر بنسټ، دغې ادارې د بندخونو او له ازادۍ محرومو ځايونو د وضعيت د ښه والي په موخه د شکنجې د مخنيوي کمېټه جوړه کړې او تير کال يې (له ازادۍ محرومو ځايونو کې د قانون حاکميت او د عدالت ټينگښت) په نوم کنفرانس هم رابللی و.

**د خبريالانو پر وړاندې د تاوتريخوالي د قضيو څېړنه**

د هېواد لوی څارنوال د خبريالانو پر وړاندې د تاوتريخوالي د ۵۰ قضيو د څېړنې په اړه هم يادونه وکړه او و يې ويل، د دغه څېړنو په پايله کې، دوه تنه په کندهار کې د کابل نيوز د خبريال عبدالمنان ارغند د ترور په تور نيول شوي او له څېړنې وروسته په اعدام محکوم شوي. همدارنگه د بي بي سي د خبريال احمدشاه د قتل اړوند درې تنه نيول شوي او له څېړنې وروسته يو يې په اعدام، يو په شپږ کاله او بل يې په درې کاله بند محکوم او مجازات شوي دي.



## فراغت ۱۶۰ تن از کارکنان لوی څارنوالی، از برنامهٔ ۹ ماههٔ زبان انگلیسی و کمپیوتر

برنامه‌یی به همین منظور با حضور رئیس تکنالوژی معلوماتی، آمر ارتقای ظرفیت، برخی از کارکنان لوی څارنوالی و مسؤولان شرکت خدمات مشورتی و تدریس خصوصی هوم استی، روز شنبه ۱۴ ثور ۱۳۹۸ خورشیدی در تالار ریاست انستیتوت آموزش‌های مسلکی لوی څارنوالی راه اندازی شد.

مسیح‌الله احمدزی رئیس تکنالوژی معلوماتی لوی څارنوالی در این برنامه با تأکید بر مؤثریت این برنامه‌ها گفت که به منظور ارتقای ظرفیت کارکنان لوی څارنوالی برنامه‌های از این نوع باید در ولایات و ولسوالی‌ها نیز راه اندازی شود. وی افزود که راه اندازی این برنامه‌ها کمک می‌کند که کارکنان لوی څارنوالی از تکنالوژی جدید به درستی استفاده کرده و دیتابیس‌هایی که در بخش‌های مختلف در این اداره به کار گرفته شده اند، دست‌رسی کامل داشته باشند.

از سوی دیگر وحیدالله صافی آمر ارتقای ظرفیت ریاست عمومی انکشاف منابع بشری لوی څارنوالی گفت که آشنایی کارکنان لوی څارنوالی با زبان انگلیسی و دست‌رسی به تکنالوژی جدید، می‌تواند راه‌گشای بسیاری از مشکلات در این اداره باشد.

در همین حال ذبیح‌الله شایان مدیر مسؤول شرکت خدمات مشورتی و تدریس خصوصی هوم استی با اشاره به فارغان این دورهٔ آموزشی گفت: ”ختم این دوره باید آغازی برای فراگیری آموزش‌های بعدی برای شما باشد.“

گفتنی است که این برنامه از بودجهٔ انکشافی لوی څارنوالی راه اندازی و از سوی شرکت خدمات مشورتی و تدریس خصوصی هوم استی اجرایی شده است.

# د وردگ د استیناف څارنوالۍ کړنې وارزول شوې

د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د لوی څارنوال د وړاندیز پر بنسټ، له ښځو او ماشومانو سره د تاوتریخوالي پر وړاندې د مبارزې مرستیالې میرمن سینا شنا منصور په مشرۍ پلاوي د وردگ د استیناف، عسکري او د کورنیو او بهرنیو جرمونو پر ضد د مبارزې څارنوالیو کړنې له نږدې وارزول شوې.
دغه پلاوي چې د بېلابېلو ریاستونو استازو یې ملتیا کوله، د ۱۳۹۸ کال د غويي پر دویمه یې د یاد ولایت د څارنوالانو کړنې او اجراآت وارزول.
له ښځو او ماشومانو سره د تاوتریخوالي پر وړاندې د مبارزې مرستیالې او یاد ولایت ته د پلاوي مشرې سینا شنا منصور، د وردگ له والي مظفرالدین یمین سره په لیدنه کې، د څارنوالانو د کړنو ارزونه او د عامه خلکو د نظرونو اخیستل د یاد سفر موخه وبلله. میرمن منصور د میدان وردگ د استیناف، عسکري او ملي امنیت څارنوالیو او د یاد ولایت له نورو دولتي ادارو سره د قانون د واکمنۍ په موخه پر گډ کار ټینگار وکړ او زیاته یې کړه: «د ولایت له مقام او نورو دولتي ادارو سره د عدلي او قضایي ادارو



همغږي، په یادو ادارو د خلکو باور زیاتوي.»
همدارنگه د یاد ولایت والي، د میدان وردگ د څارنوالانو له کړنو خوښي و ښوده او زیاته یې «د دغه ولایت څارنوالان د قانون او عدالت د ټینگښت په موخه خپلې دندې په جرأت سره تر سره کوي.» هغه د ولایتي اداري په استازیتوب، داډ څرگند کړ، چې

د ولایت مقام او اړوندې سیمه‌ییزو اداري به په بشپړه همغږۍ د یاد ولایت څارنوالیو سره د قانون حاکمیت او واکمنۍ او د عدالت د تأمین په موخه گډ کار کوي.
له مرکزه راغلي پلاوي، د دغه ولایت د استیناف، عسکري او د کورنیو او بهرنیو جرمونو پر ضد د مبارزې څارنوالۍ کړنې له نږدې وارزولې او د دغه ولایت له کړنو او لاسته‌راوړنو څخه یې خوښي څرگنده کړه.
یاد پلاوي د دغه ولایت د استیناف محکمې له رئیس، د ولایتي شورا له غړو، له امنیتي مسوؤلانو، د ښځو چارو له رئیسې، د محبس له مدیر او بندیانو، قومي مشرانو او د مدني ټولنو له استازو سره په جلا جلا توگه ولیدل. دوی د څارنوالیو له کړنو خوښي څرگنده او د یاد ولایت له څارنوالیو سره یې د همکارۍ ژمنه وکړه.
دا په داسې حال کې ده،چې په دې وروستیو کې له مرکزه د هېواد بېلابېلو ولایتونو ته پلاوي تللي او د څارنوالیو کړنې یې له نږدې ارزولي دي.

## بقیهٔ مطالب

### د لویې څارنوالۍ د عالي شورا غونډه ...

دوسیو په اړه بحث وشو. ویل کېږي، چې د ۱۳۸۱ او ۱۳۹۱ کلونو تر منځ د جنحې قضیې او د ۱۳۸۱ څخه تر ۱۳۸۷ کال پورې د قباحت دوسیې په تخنیکي ارشیف کې ساتل کېږي. عالي شورا پرېکړه وکړه، چې د لویې څارنوالۍ د تدقیق او مطالعاتو، تفتیش، کنترول او مراقبت ریاستونو له استازو دې یوه کمېټه جوړه شي، تر څو په اړه یې لازم او قانوني تصمیم ونیسي.
د غونډې په بله برخه کې د کنړ ولایت د استیناف څارنوالۍ پر استهدایه چې د څارنوالۍ له خوا د سترې محکمې د مقام وارداتي حساب ته د محکوم بها اړوند مبلغ استول کېږي، بحث وشو.
عالي شورا د استهدایو د کمېټې د نظر د تائیدولو تر څنگ پرېکړه وکړه، چې اړونده څارنوالۍ دې د جزایي اجرااتو قانون د ۳۴۳ مادې له مخې اجراات وکړي او له محکوم بها څخه د تر لاسه شوي مبلغ په اړه دې اړونده محکمو ته ډاډ ورکړي.
د غونډې په بله برخه کې، د تدقیق ریاست او په عسکري چارو کې د لویې څارنوالۍ د عسکري چارو مرستیالۍ د عسکري جرمونو د احصایې د پلان پر استهدایه بحث وشو. د نظامي جرمونو په اړه د استهدایو د مؤظفې کمېټې د نظر او د جزا کود د لومړۍ گڼې په ضمیمې، د لمسې مادې لومړۍ فقرې د مصرحاتو په پام کې نیولو سره، چې د نظامي منسوبینو خپل سري غیابت تر یو کال پورې د عدلي تعقیب وړ نه دی گڼل شوی او د قطعي حکم د صادرېدو مخکې یا وروسته د جزا کود د ۱۷ مادې درېیمې فقرې له مخې دې داسې قانون نافذ شي، چې محکوم شوی تورن پکې مجازات نشي او د هغوی متوقف تنفیذ شوی حکم او مرتب جزایي اثار له منځه یوړل شي.
د عالي شورا غونډې ته د یادې کمېټې نظر، د تائید وړ وگرځید.
د دغې غونډې په بله برخه کې، د کندهار استیناف څارنوالۍ اړوند، د عبدالبصیر د محمد نعیم زوی د وهلو ټکولو قضیې پر استهدایه بحث وشو.
دا چې د جزا کود د جزایي اجرااتو قانون تر نافذېدو وروسته نافذ شوی او د جزایي اجرااتو قانون د ۶۳ مادې اتکل شوي موارد پکې په پام کې نه دي نیول شوي؛ نو عالي شورا د تقنین کمېټې ته دنده ورکړه، چې د یادې موضوع د تعدیل طرحه عدلیې وزارت ته واستوي.
د عالي شورا په پای کې، د مرکز او ولایتونو ۵۸ په شرایطو برابرو څارنوالانو ته د څارونکي کادري درجې تصویب شوې.

### کارکنان دستگاه عدلی و قضایی باید الگوی قانون‌مداری و عدالت‌محوری ...

رئیس هیأت یاد شده در این نشست با اشاره به کارکنان څارنوالی این ولایت گفت: " ارزیابی شما بر اساس اجراآت تان و به ویژه قضاوت مردم از این اجراآت خواهد بود." وی از قاطعیت و جدیت رهبری لوی څارنوالی در راستای مبارزه با فساد اداری صحبت کرد و افزود که محو این پدیده از ساختار و کارکنان څارنوالی شروع شده و تا ریشه کن کردن آن از تمام اداره‌های حکومتی ادامه خواهد یافت. تأکید بر هماهنگی و همکاری میان بخش‌های مختلف څارنوالی و دیگر اداره‌های محلی از موارد مهم دیگر بود که آقای ارغون بر آن تأکید کرد. وی سپردن کار به اهل آن، ظرفیت‌سازی و جوان سازی اداره را از اولویت‌های رهبری لوی څارنوالی عنوان کرد و افزود که در این راستا تلاش‌های جدی و سازنده صورت گرفته است. آقای ارغون بر ظرفیت‌سازی در لوی څارنوالی نیز تأکید کرد و گفت: "اطمینان از اجراآت شما، بستگی به ظرفیت تان دارد." وی به کارکنان څارنوالی ولایت نیمروز هدایت داد تا به منظور ارتقای ظرفیت شان در برنامه‌هایی که به این منظور راه اندازی می‌شود سهم بگیرند.
از سویی هم څارنیار عبدالودود فیروزکوهی رئیس څارنوالی استیناف ولایت نیمروز گفت که در این څارنوالی انگیزهٔ مبارزهٔ جدی با جرم و جنایت و فساد اداری وجود دارد. وی افزود از آنجایی که ولایت نیمروز یکی از ولایت‌های سرحدی بوده و سطح قاچاق و فساد مالی در آن بلند است؛ اما کارکنان څارنوالی در هماهنگی کامل با رهبری ولایت و محاکم، همواره با جدیت و قاطعیت مبارزه کرده و دست مجرمان و فساد پیشگان را تا حد ممکن بسته اند. آقای فیروزکوهی از هماهنگی و همکاری نزدیک بخش‌های مختلف څارنوالی در ولایت نیمروز نیز صحبت کرد و گفت که څارنوالی‌های استیناف، مبارزه با جرایم علیه امنیت داخلی و خارجی و څارنوالی مبارزه با جرایم عسکری ولایت نیمروز به سان یک مشت محکم در برابر مجرمان و فساد پیشگان کار و مبارزه می‌کنند. رئیس څارنوالی استیناف ولایت نیمروز از اصلاح سازی سیستم دوسیه‌بندی(فایلنگ)، بازسازی دفاتر کاری و مدیریت درست در این څارنوالی نیز سخن گفت. به گفتهٔ وی دوسیه‌های سال‌های ۱۳۹۶، ۱۳۹۷ و ۱۳۹۸ خورشیدی به گونهٔ نوین دوسیه‌بندی شده و کار روی دوسیه بندی قضایای سال‌های قبل از آن جریان دارد.
نشست با سرپرست محکمهٔ استیناف و قضات، از فعالیت‌های دیگر این هیأت در ولایت نیمروز بود. رئیس هیأت یادشده در این نشست از تغیرات و اصلاحات جدی در ستره‌محکمهٔ کشور به نیکی یاد کرد. وی به‌کاری گیری میکانیزم‌های عملی به منظور ایجاد ادارهٔ سالم، ارتقای ظرفیت قضات، اکمالات و تجهیزات این اداره را از شمار این اصلاحات عنوان کرد. وی در ادامه افزود که حفظ حقوق اساسی شهروندان و رعایت آن از مسؤولیت‌های دستگاه عدلی و قضایی است و این اداره‌ها باید نهایت تلاش خویش را در این راستا به خرج بدهند. راه اندازی نشست‌های هماهنگی میان څارنوالی و محاکم به منظور بهبود انجام امور از موارد دیگری بود که آقای ارغون بر آن تأکید کرد.
در همین حال سرپرست محکمهٔ استیناف ولایت نیمروز از اصلاحات به وجود آمده در این اواخر در لوی څارنوالی به ویژه بخش‌های مختلف څارنوالی این ولایت ابراز خشنودی کرد و افزود که این مسأله سبب تقویت اعتبار مردم نسبت به لوی څارنوالی شده است. وی از پروسهٔ اعزام هیأت به زون‌های مختلف کشور به منظور بررسی اجراآت څارنوالی‌های ولایات به نیکی یاد کرد. به باور موصوف تفتیش، ارزیابی و بررسی کارکردها و اجراآت څارنوالان، تأثیر مستقیم بر عمل‌کرد و تجربه‌های آنان دارد. بهبود روابط و هماهنگی لازم میان دستگاه عدلی و قضایی در این ولایت از موارد دیگر بود که سرپرست محکمهٔ استیناف ولایت نیمروز از آن سخن گفت.
این هیأت با نماینده‌های مردم در شورای ولایتی ولایت نیمروز نیز نشست و گفتگو کرد. آقای ارغون در این نشست از نقش مهم شورای ولایتی در بخش‌های مختلف به ویژه دفاع از حقوق شهروندان صحبت کرد. وی گفت: "شورای ولایتی پُل ارتباط میان مردم، دولت و حکومت است." معاون لوی څارنوال از کار و تلاش رهبری لوی څارنوالی در راستای تغییر مثبت ذهنیت مردم در مورد این اداره نیز یاد دهانی کرد. موصوف افزود: "ما تلاش داریم که به منظور بلند رفتن سطح قانون‌پذیری در کشور، انگیزهٔ ترس از څارنوال را از میان برداشته و بر ترس مردم از قانون بیافزاییم." آقای ارغون در ادامه افزود که باید همواره از کارکردها و اجراآت څارنوالی‌ها در سطح ولایات به شهروندان کشور اطلاع‌دهی شود.
از سوی دیگر نماینده‌های مردم در شورای ولایتی ولایت نیمروز به خاطر تغییرات اصلاحی گسترده و سیستماتیک در ساختار لوی څارنوالی ابراز تشکر و قدردانی کردند. آنان ابراز امیدواری کردند که این روند همین گونه به پیش برود تا امیدهای به وجود آمده در میان مردم زنده مانده و بر کارآیی و اجراآت سازندهٔ څارنوالی‌ها نیز بیش از پیش افزود شود. به باور آنان اصلاحات در دستگاه عدلی و قضایی کشور قابل ملاحظه است؛ اما شهروندان کشور از این دستگاه، بیش‌تر این‌ها توقع و انتظار دارند.
این هیأت در ادامهٔ نشست‌هایش با مسؤولان بخش‌های مختلف اداره‌های دولتی و مردم ولایت نیمروز با قوماندان امنیه، علما، ریاست‌های حج و اوقاف و امور زنان و فعالان مدنی این ولایت نیز دیدار و گفتگو کرد.
مسؤولان این بخش‌ها نیز افزون بر ارائهٔ چالش‌ها و مشکلات موجود از اصلاحات، کارکردها و اجراآت بخش‌های مختلف څارنوالی این ولایت ابراز رضایت کردند. آنان از رهبری لوی څارنوالی خواستند تا روند اصلاح‌سازی این اداره را در سراسر کشور ادامه بدهند تا قانون در کشور به گونهٔ درست تطبیق، عدالت تأمین، حقوق و آزادی‌های شهروندان بیش از پیش حفظ و مصون شود.

### ۸۰ زندانی از زندان پلچرخی کابل، ...

کرامت انسانی شهروندان حمایت کرده و به آن احترام می‌گذارد. به گفتهٔ آقای ساپی با کسانی که مکرراً مرتکب جرم می‌شوند، در آینده در فرمان‌های ریاست جمهوری مبنی بر عفو و تخفیف زندانیان، برخورد با آنان تغییر خواهد کرد. وی در ادامه گفت که تطبیق این فرمان همزمان با صادرشدن آن، نشانگر ارادهٔ نیک رهبری لوی څارنوالی و احترام به کرامت انسانی زندانیان می‌باشد. آقای ساپی با اشاره به زندانیان آزاد شده گفت: " از آنجایی که آزادی یک نعمت بزر گ الهی است، امیدوارم مدتی را که در زندان سپری کردید، ارزش واقعی آن را درک کرده و پس از این به آزادی تان توجه بیشتر داشته باشید.
این در حالی‌است که با صدور این فرمان، هم‌زمان در چندین ولایت کشور نیز این فرمان تطبیق شده است. لوی څارنوالی جمهوری اسلامی افغانستان به منظور تطبیق قانون و رعایت حقوق زندانیان، از یک سال بدینسو، فرمان‌های عفو و تخفیف را همزمان با صادر شدن آن تطبیق می‌نماید.

# څارنوال

حاکمیت قانون و تأمین عدالت

صاحب امتیاز: لوی څارنوالی
مدیر مسؤول: محمدعمر تیموری
زیر نظر: هیأت تحریر
سردبیر و ویراستار: محمدهادی رویش
گزارشگران: وحیدالله هوتک و عبدالغنی حسن
عکاس: سیدکامل سیفی
صفحهٔ انترنتی: www.ago.gov.af / شماره تماس: ۰۲۰۲۲۰۱۵۱۲(۰)۹۳+
نشانی: قلعهٔ فتح‌الله خان، ناحیهٔ دهم، کابل، لوی څارنوالی - ریاست اطلاعات و ارتباط عامه

سه شنبه، د ۱۳۹۸ کال د غويي يو دېرشمه - د ۱۴۴۰ هـ. ق کال رمضان‌المبارک شپاړسمه - د ۲۰۱۹ میلادي کال د مې یوویشتمه، ۱۱۵ گڼه


## ده تن به اتهام سوء استفاده از صلاحیت های وظیفه‌یی، غدر و تزویر، به گونهٔ علنی محاکمه شدند



این ده تن از سوی محکمهٔ ابتدایی مرکز عدلی و قضایی مبارزه با جرایم سنگین فساد اداری، روز یک‌شنبه ۲۲ ثور سال ۱۳۹۸ خورشیدی، به گونه علنی محاکمه شدند.

در این جلسهٔ قضایی، برید جنرال احمدضیا یفتلی فرزند عبدالسلام، رئیس صحیهٔ ستر درستیز وزارت دفاع ملی، جنرال سیدحفیظ ظهور فرزند سید عالم‌شاه، معاون ریاست صحیه، برید جنرال عبدالفتاح فرزند غلام‌دستگیر، رئیس هیأت تدارکات، دگروال محمدحکیم فرزند فیض‌محمد، رئیس تشریح شش قلم ادویه، دگروال عبدالصمد فرزند عبدالکریم، عضو هیأت تشریح ادویه، دگرمن نورالله فرزند یارمحمد، مدیر نظارت از قراردادها، مورد محاکمه قرار گرفتند.

محمدصابر فرزند محمدطاهر، دگروال عبدالرحمن فرزند میرگل، دگروال محمدعارف فرزند حاجی شیرین عضو هیأت تدارکات، و نثاراحمد فرزند غلام سرور، معاون شرکت افغان فارما نیز در این جلسهٔ قضایی محاکمه شدند.

هیأت قضایی این جلسه، احمدضیا یفتلی و سیدحفیظ ظهور را به اتهام غدر و محمدحکیم، عبدالصمد، عبدالفتاح، محمدعارف، محمد صابر، عبدالرحمن و نورالله را به اتهام شراکت در این قضیه، مطابق فقرهٔ دوم مادهٔ ۱۷۰ و مادهٔ ۳۹ قانون جزا با رعایت فقرهٔ ششم مادهٔ ۲۱۲، ۲۳۷ و ۲۰۹ قانون اجراآت جزایی و مادهٔ ۱۷کودجزا، به شش-شش ماه حبس تنفیذی، محکوم به مجازات کرد.

بر اساس فیصلهٔ هیأت قضایی این جلسه، نثاراحمد به اتهام شراکت در قضیه یاد شده و تزویر اسناد، طبق صراحت مواد ۱۵۶، ۱۷۰ و ۳۹ قانون جزا، با در نظرداشت مادهٔ ۱۷ کودجزا نیز به شش ماه حبس تنفیذی، محکوم به مجازات شد.

همچنان هیأت قضایی این محکمه، بر اساس مادهٔ ۴۸ قانون جزا به رد ۱۷ میلیون و ۲۲۰ هزار افغانی، به گونهٔ تضامن علیه متهمان این قضیه، حکم کرد.

## کارکنان دستگاه عدلی و قضایی باید الگوی قانون‌مداری و عدالت‌محوری باشند

این مسأله را وحیدالدین ارغون معاون لوی څارنوال در امور مالی و اداری و رئیس هیأت بررسی اجراآت و کارکردهای ولایت‌های زون غرب کشور در دیدار با مسؤولان محلی، نهادهای مردمی، علما، نماینده‌های جامعهٔ مدنی و برخی دیگر از شهروندان ولایت نیمروز بیان کرد.

این هیأت افزون بر نشست‌های جداگانه با مسؤولان محلی و نماینده‌های نهادهای مردمی، نظارت از محلات سلب آزادی و مرکز اصلاح و تربیهٔ اطفال ولایت نیمروز، سه تن محجوز و نُه تن زندانی را از این مراکز، روز یک‌شنبه اول ثور ۱۳۹۸ خورشیدی آزاد کرد. زندانیان و محجوزین یاده شده بر اساس بررسی این هیأت، بنابر اکمال حبس یا توقیف غیر ضروری از زندان و مرکز اصلاح و تربیهٔ اطفال ولایت نیمروز آزاد شدند.

هیأت یادشده وضعیت صحی و معیشتی محلات سلب آزادی را بررسی و نظارت کرده و برای رفع مشکلات به مسؤولان مربوط هدایت‌های لازم داد.

وحیدالدین ارغون رئیس این هیأت در دیدار با والی ولایت نیمروز، افزون بر صحبت در مورد اهداف سفر این هیأت به ولایت‌های زون غرب کشور، از چگونگی بررسی اجراآت بخش‌های مختلف څارنوالی این ولایت نیز یاد دهانی کرد. وی افزود: ″ ما اجراآت څارنوالی‌های ولایات را از طریق پرسش‌نامه‌ها، چک‌لست‌ها، سوال‌های رو در رو با مسؤولان محلی، نماینده‌های نهادهای مردمی و بررسی عملی، قضاوت می‌کنیم.″ آقای ارغون از اقدامات و تدابیر جدی رهبری لوی څارنوالی در راستای مبارزه با فساد اداری نیز صحبت کرد. معاون لوی څارنوال، ایجاد معاونت مبارزه با فساد اداری را در تشکیل این اداره و ایجاد مرکز عدلی و قضایی مبارزه با جرایم سنگین فساد اداری را از شمار تدابیر و اقدامات جدی این اداره برشمرد.

وی افزود که تحمل رهبری لوی څارنوالی در برابر فساد اداری صفر است و در امر مبارزه با این پدیده در افغانستان در خط نخست قرار دارد.



از سوی دیگر داکتر سیدولی سلطان والی ولایت نیمروز در دیدار با این هیأت گفت: ″اکنون څارنوالی برای ما به یک امید تبدیل شده است.″ وی از تلاش‌های رهبری لوی څارنوالی در راستای اصلاح و جوان‌سازی و به کار گماشتن افراد شایسته و متعهد در این اداره نیز به نیکی یاد کرد.

به باور آقای سلطان مؤثریت کار لوی څارنوالی روزبه‌روز در حال بهبود است و این مؤثریت با همکاری و هماهنگی با دیگر اداره‌ها بیشتر از پیش تقویت خواهد شد. والی ولایت نیمروز از اصلاحات در ادارهٔ مستقل ارگان‌های محلی نیز یاد آوری کرد و افزود که تلاش شده است تا این اداره به یک ادارهٔ کارا و پاسخ‌گو تبدیل شود.

این هیأت با رؤسا و کارکنان بخش‌های مختلف څارنوالی ولایت نیمروز نیز دیدار و گفتگو کرد... صفحهٔ۳

## د لويې څارنوالۍ د عالي شورا غونډه وشوه



د لويـې څارنوالۍ د عالي شورا غونډه د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د لوی څانوال څارنپوه محمد فريد حميدي په مشرۍ، د ۱۳۹۸ کال د غويي پر ۲۲ وشوه.

د غونډې په پيل کې، د باميان د استيناف څارنوالۍ پر استهداديه چې د نقليه وسايطو اړوند، څوک چې د جزا کود د (٥٦٠) مادې له مخې محاکمه کېږي؛ خو د نقليه وسايطو د برخليک په اړه يې حکم نه صادرېږي، بحث وشو.

عالي شورا پرېکړه وکړه، چې د يادې موضوع د څېړنې لپاره دې د لويې څارنوالۍ د تدقيق او مطالعاتو رياست ته دنده ورکړل شي، ترڅو د ماليې وزارت او د ترافيکو رياست په همکارۍ ياده موضوع وارزوي او د عالي شورا په راتلونکې ناسته کې دې يې راپور وړاندې کړي.

همداراز پرېکړه وشوه، چې د باميان د استيناف څارنوالۍ رياست دې د هغه نقليه وسايطو په اړه، چې څښتن يې قانوني سند نشي وړاندې کولای، د قانون د احکامو او قضايي چلن له مخې اجراات وکړي.

د غونډې په بله برخه کې، د بلخ د استيناف څارنوالۍ پر استهداديه چې د دولتي او شخصي ځمکو د غصب په اړه وه، بحث وشو.

عالي شورا په دې اړه پرېکړه وکړه، چې له دې وړاندې د سترې محکمې عالي شورا په ۱۳۹۷/۱/۱۵ نيټه د خپلې ۸۲ گڼې مصوبې له مخې، د ځمکو د غصب قضيو د څېړنو ځانگړې محکمې جوړې کړې چې له مخې يې په هر ولايت کې د ځمکو د غصب قضيو د څېړلو څارنوالۍ هم جوړې شوې دي. همدارنگه عالي شورا د مالي او اداري چارو مرستيالۍ ته دنده ورکړه، تر څو د اړونده څارنوالانو د ظرفيت لوړونې په موخه روزنيز پروگرامونه هم جوړ کړي.

د غونډې په بله برخه کې د (۲۷۹۲) جلده... ۳مخ

## څلور تنه سړي تښتوونکي په ۲۰ کلن بند باندې محکوم شول

د کابل ښار د درېيمې حوزې د ابتدايي محکمې د کورني او بهرني امنيت پر وړاندې د جرايمو ديوان، نن شنبه د ۱۳۹۸ کال د غويي په ۲۱مه د يوې علني غونډې په ترڅ کې، د يوه ملي سوداگر د تښتوونې د قضيې په تړاو سړي تښتوونکي په سزا محکوم کړل.

دغه قضايي غونډه چې د همدې محکمې په تالار کې د قضيې د تورنو، د قضيې د موظف څارنوال، د تورنو د مدافع وکيلانو، د محکمې د قضايي هيئت او يو شمېر خبريالانو په شتون کې جوړه شوې وه، د قضيې تورن، هر يو عبدالحميد د بومان علي زوی، مولاداد د حسين داد زوی، اسحاق د قاسم علي زوی او محمداجان د محمد جان زوی د حاجي محمد حسين د مرجان علي زوی او خير محمد د جان محمد د زوی د تښتوونې د قضيې په تړاو د حزا د کوډ د ۵۹۱، ۲۱۸ او ۲۱۹ مادو له مخې د نظارت د پيل له ورځې په ۲۰ کلن تنفيذي بند باندې محکوم کړل او عبدالحکيم د محمد جان زوی يې د جزا د کوډ د پنځمې مادې له مخې د الزام د کافي دلايلو د نشتوالي له کبله، برئ الذمه وپيژانده.

د قضيې موظف څارنوال، د خپلې صورت دعوې د وړاندې کولو په مهال وويل چې، دغو تورنو کسانو نږدې پنځه مياشتې وړاندې، د حاجي محمد حسين او خير محمد د تښتوولو پلان جوړ کړی و او له هغوی سره يې د پيژندگلوي نه په گټې اخيستنې دې ته هڅولي وو تر څو په کابل کې يو کور واخلي. کله چې حاجي محمد حسين او خير محمد له هرات څخه کابل ته راځي، په همغه شپه د قضيې د يوه تښتيدلي جرمي شريک په کور کې د وسلې په زور يې لاسونه، پښې او سترگې يې تړل کېږي او د يوه فلاينکوچ ډوله موټر په مټ يې په همغه شپه د خپل بل جرمي شريک، اسحاق کور ته ليږدوي.

د اسحاق په کور کې له ۱۵ ورځو وروسته، تور کسان تصميم نيسي چې هغوی د خپل بل جرمي شريک، محمداجان کور ته چې په دشت برچې کې د اتفاق په ښارگوټي کې موقعيت لري د شپې ناوخته وړي او هلته يې په يوه کېندل شوې څاه کې ساتي.

نوموړي څارنوال زياته کړه چې، په همدې موده کې، همدا سړي تښتوونکي د حاجي محمد حسين د کورنۍ له غړو سره اړيکه نيسي او له هغوی څخه د ۳۰۰۰۰۰ امريکايي ډالرو غوښتنه کوي، په پای کې، د حاجي محمد حسين کورنۍ د ۱۸ لکه افغانيو ورکړې ته غاړه ږدي، چې کشفي او امنيتي سرتيري د خپلو امکاناتو نه په گټې اخيستنې سره، د ۱۳۹۷/۱۰/۱۹ نېټې په شپه لومړی عبدالحميد نيسي او نوموړی پر خپل جرم باندې تر اعتراف وروسته په ۱۳۹۷/۱۰/۲۰ نېټه د تښتول شويو کسانو دقيق ځای او د خپلو نورو جرمي شريکانو پته هم په ډاگه کوي. د يادونې وړ ده چې محکومين د محکمې له خوا حاجي محمد حسين ته د ۵۰۰۰ امريکايي ډالرو او ۲۵۰۰۰۰ افغانيو د تاوان په ورکړې سره هم مکلف وپيژندل شول. د همدې محکمې په درشل کې، د قضيې موظف څارنوال د خپلې صورت دعوې او د مجرمينو د اعترافاتو له مخې د دلايلو له وړاندې کولو وروسته، د محکمې له مشر او قضايي پلاوي څخه د جزا د کوډ د ۵۲۶ حکم له مخې غوښتنه وکړه تر څو هغوی د انسان تښتوونې په تور په درنه سزا ورکولو سره محکوم کړي.

له کومه ځايه څخه چې په هېواد کې په دې وروستيو کې د سړي تښتوونې پيښې، له هېواد څخه د پانگه والو او د هغوی د پانگو د تېښتې لامل گرځيدلې، نو د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت لويه څارنوالي، تل له دا ډول کسانو او قضيو سره په جديت چلند کوي او هېڅکله به اجازه ور نه کړي چې د افغان وگړو حقونه تر پښو لاندې شي.